**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د دښمن ملګری مو دښمن دی

**خبر:**

د متحده عربي اماراتو وليعهد شهزاده شيخ محمد بن زايد النهيان د هند لومړي وزير ته ستر ملکي مډال (زايد مډال) ډالۍ کړ. ياد مډال يې په ابوظبۍ کې د ليدنې پر مهال ورکړ، چې پکې د دوو هېوادونو د اړيکو پر ښېرته پياوړي کولو ټينګار کېده. (سرچينه: الجزيره ټکی کام)

**تبصره:**

د هند تر ولکې لاندې کشمير له يو ټکان ورکونکي حالت سره هغه مهال مخ شو، چې هند په دې سيمه کې ځانګړی دريځ له منځه يووړ. د مخابراتي شبکو محدوديت درېيمې اونۍ ته وغځېد او دا د بې ثباتۍ لامل ګرځي. دغې چارې نه يوازې د کشمير خلک اغېزمن کړي، بلکې هغه خلک يې هم اغېزمن کړي چې د کشمير له ورونو او خويندو سره د غم شريکۍ او تړاو احساس لري. که موږ له يوه اړخه په کشمير کې بې ګناه او ناتوانه مسلمانان لرو، چې د هندي ځواکونو له لوري په لومه کې راګېر شوي؛ خو له بل اړخه بيا په ميليونونو داسې مسلمانان لرو چې د کشمير له ورونو او خويندو سره مرسته کولی شي، خو د خپلو حکمتونو لخوا په لومه کې راګېر او يرغمل شوي. په داسې حال کې چې پاکستان پر پلمو، ښښې او حق غوښتنې بوخت دی او د اړتيا پر مهال بيا تش په نامه ګواښونه کوي، چې په دې سره د خپلو خلکو احساسات ارام کړي. د متحده اماراتو حکومت څو ګامونه مخ پر وړاندې تګ کړی او مودي ته يې د سوغات او انعام ورکولو چمتوالی نيولی. د بنګله دېش د بهرنيو چارو دفتر د بنګله دېش د موضوع اړوند ويلي، چې دا د دوی ترمنځ خپلمنځي مسله ده. موږ وينو چې بنګله دېش له چين او هند سره د دوه اړخيزو اړيکو پر پياوړتيا ټينګار کوي، په داسې حال کې چې دواړو هېوادونو د مسلمانانو له ظلم څخه لاس نه دی اخيستی. دغه راز، بنګله دېش هم د روهينګيا مسلمانانو پر وړاندې د وحشت ځنځيرونه مات کړي دي. د مسلمانو چارواکو کړه وړه يوازې د ملتپالنې تر پولو پورې محدود دي او ياد فکر يې دې ته اړ کوي، چې د خپلو شخصي او ملي ګټو په اړه فکر او عمل وکړي. هند له دوبۍ سره په سوداګريزه راکړه ورکړه کې دويم ستر شريک هېواد دی، چې په ۲۰۱۸م کال کې يې د راکړې ورکړې کچه ۳۱.٦ ميليارډه ته ورسېده. په دغې راکړه ورکړه کې د تېر ۲۰۱۷ م کال په پرتله ۱۷ سلنه زياتوالی راغلی او په داسې حال کې چې ۲۰۱۹م کال لا هم په مخکې دی.

ټولو مسلمانو مشرانو پانګوالۍ ته مخه کړې او دوی خپل نوی خدای لري، چې هغه ته ډېر وفادار او مومنان دي. لکه څرنګه چې متحده امارت د هند ستر بازار د لاسه ورکولو ته نه دی تيار او لا هم هڅه کوي چې له هند سره خپلې اړيکې نورې هم پراخې او پياوړې کړي. لنډه دا چې امارات د کشمير له دواړو غاړو هېوادونو سره د خپلو ګټو پر بنسټ اړيکې پالي. د کشمير او پاکستان د مسلمانانو زړونه ښايي د ايمان لمخې يو پر بل پورې تړلي وي، خو په کشمير کې د پاکستان حکومت ستراتيژيکه شخصي ګټه لري، چې هغه د کشمير خاوره لاسته راوړل او له

هغې څخه سیاسي ګټه اخیستل دي. د پاکستان حکومت ښایي د هندي حکومت کړنې و غندي، خو د کشمیر د بې ګناه مسلمانانو د دفاع لپاره نه پوځونه لېږي او نه کوم بل کوټلی ګام اخلي. دوی نه غواړي چې خپل امریکایي باداران له ځان څخه خپه کړي او دا کړنه یې د متحده عربي اماراتو په څېر ده، چې واقعیت یې د مسلمنانو د وینو او خاورو پر پلورلو ولاړ دی. دا ټول هغه څه دي چې عربي سلطنت پرې له دغه ځای څخه خپله سوداګري راپیل کړې، حتا په دغې چاره کې تخصص ته رسېدلي او الله سبحانه و تعالی هم پکې بوخت ساتلي. دغې چارې دوی د مسلمانانو له دښمنانو سره ملګرتیا ته هڅولي، هغه دښمنان چې اسلامي امت یې تر بل هر وخت زیات ځورولی او له دوی سره ملګرتیا یې د ښو کړنو مخه ډپ کړې.

اوس د هوښیارانو لپاره دا فرصت دی، چې په هره سیمه پورې تړاو لري، خپلې زولنې ماتې کړي؛ د کشمیر، سوریې، فلسطین او افغانستان مظلومو خلکو ته د مرستې لاس اوږد کړي. که دا ظالمان د کفر پر ملګرتیا ویاړي او د هغوی په خوشحاله کولو د شرم احساس نه کوي، نو بیا خلک ولې د دغو ظالمانو پر وړاندې نه درېږي او کړنې یې توجیه کوي؟ همدا یې وخت دی، چې مسلمان پوځونه خپل ږغ پورته کړي او ګام پر ګام وړاندې لاړ شي. همدا یې وخت دی، چې مسلمان سرتېري مو د جهاد واقعي څېره تجربه کړي او دا یوازې پر نبوي تګلاره د خلافت له لارې کېدای شي. دلته به د سرتېرو ترمنځ اړیکې د الله سبحانه و تعالی رضایت او اطاعت ته په کتو سره وي او سیمې به د واقعي مالک (پاچا) تر نامه لاندې فتحه کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلاَلِ السُّيُوفِ»**

(صحیح بخاري)

***ژباړه:*** *پوه شئ، چې جنت د تورو تر سیورې لاندې دی.*

**د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره لیکنه**

**اخلاق جهان**